د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: http://unama.unmissions.org

## رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**کترین بنګوی د یونیسف مشره په افغانستان کی،**

**شیګیرو ایوګی، د یونیسکو مشر په افغانستان کی،**

**مایکل سلینګزبی، د هبیتات مشر په افغانستان کی،**

**ډاکتر نیلاب مبارز، د یوناما د ویاند د دفتر څخه ،**

*کابل- دوشنبه د سپتمبر د میاشتی اومه نیټه، کال ۲۰۰۹*

## د ۲۰۰۹ کال د سواد د نړيوالي ورځې په مناسبت د يونسکو، يونيسف او يو ان هبيتات ګډه وينا

د ۲۰۰۹د سپتمبر ۷ نېټه، کابل: د سواد نړيواله ورځ، چې د ۲۰۰۹ زېږديز کال د سپتمبر په ۸ نېټه د افغانستان د حکومت لخوا د سواد د زده کړې لپاره دجوړ شوي ملي چوکاټ *"د پياوړتيا لپاره د ليک لوست زده کړې نوښت (LIFE)"* تر چتر لاندې لمانځل کېږي، د دې ورځې په مناسبت د ملګرو ملتونو ښوونيز، علمي او کلتوري سازمان(UNESCO) ، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق(UNICEF) او دملګرو ملتونو د بشر د مېشتېدنې پروګرام (UN-HABITAT) يو ځل بيا په افغانستان کې د موجوده اړونده ټولو ګډو لوريو څخه ټينګه غوښتنه کوي، چې د سواد زده کړې ته د نالوستو هېوادوالو او په ځانګړې ډول د هغو سيمو لاس رسی زيات کړي، چې له خدمتونو بې برخې پاتې شوي، ځپل شوي او محروم دي، په بېوزلی او غربت کې ژوند کوي او هم نورو هغو محرومو وګړو ته دسواد د زده کړې با کيفيته پروګرامونه برابر کړي، چې د يونسکو لخوا د پوهنې وزارت او د LIFE د غړيو په مرسته "داړتياوو د ارزونې په راپور" کې ياد شوي دی. د سواد زده کړه د بشر هغه اساسي حق دی، چې د روغتيايي حالت په وده کې مرسته کوي، اقتصادي او ټولنيز معيارونه لوړوي او په عمومي ډول د ژوند کيفيت ته وده ورکوي. سربېره پردې، د سواد زده کړه د سوکاله او با امنه ټولنې په رامنځته کولو او ساتلو کې د پام وړ رول لوبوي.

يونسکو، يونسيف او يو ان هبيتات خوشاله دي، چې سږ کال"د سواد ځواک" له شعار سره سم د سواد د نړيوالي ورځې [موضوع] په ملي کچه، تابعيت او پراختيا کې د سواد ونده او ارزښت ټاکل شوی او په همدې موضوع ټينګار کېږي. ددې ورځې د لمانځنې او هم د سواد زده کړې فعاليتونوته د افغانستان د اړتياوو د ځرګندولو په برخه کې، موږ خوشاله يو، چې داسې يو کتاب وړاندې کړو، چې دسواد د زده کړې په هکله دافغان زده کوونکو ځرګندونې پکې راوړل شوې دي. په دې کتاب کې زده کوونکو په خپله ژبه ځرګنده کړې، چې د سواد زده کړې د دوی په ژوند کې کوم بدلون را وستی. همدارنګه دغه کيسې د زده کوونکو دا بروسه هم په ډاګه کوي، چې د سواد زده کړه دداسې ژوند فرصت برابروي، چې ستونزې او شخړې پکې ځای ونلري. سوله او امنيت د هغوی لپاره يوازې له جګړې څخه خلاصون نه بلکې ډېر څه دي، څکه چې دناوړه شرايطو او ستونزمن ژوند د لرېوالي په مانا دی.

د کتاب په بنه چاپ شوې کيسې د هغو زده کوونکو يادښتونه او ځرګندونې دي، چې د هېواد په بېلابېلو برخو کې يې د سواد د زده کړې په مختلفو پروګرامونو لکه: د يونسکو لخوا "په افغانستان کې د سواد د کچې لوړتيا(ELA)"، د يونيسف لخوا "دمېرمنو د سواد زده کړې او پياوړتيا پروګرام"، د هبيتات لخوا "د سواد زده کړه د ټولنې دپراختيا لپاره پروګرام (LCEP-2)" او همدارنګه په هغو ټولګيو کې زده کړې دي، چې په نبغ ډول د پوهنې وزارت د سواد زده کړې د معينيت لخوا اداره کېږي. ددغه ټولو پروګرامونو موخه داده، چې "زده کړه د ټولو لپاره" پروګرام له هدفونو سره سم او د افغانستان د ملي پراختيا تګلارې (ANDS)، د ښوونې او روزنې ملي ستراتيژيک پلان او د سواد زده کړې ملي کاري پلان په رڼا کې تر ۲۰۱۵ کال پورې د بېسوادۍ کچه په سلو کې ۵۰ راټيټه کړې.

د يونسکو د ELA (په افغانستان کې د سواد د کچې لوړتيا) پروژه د جاپان لخوا تمويلېږي او موخه يې ۶۰۰۰۰۰ زده کوونکو ته د اساسي او مابعدو زده کړو برابرول دي، چې د افغانستان په ۱۳ ولايتونو کې تر ۲۰۱۳ کال پورې پلي کېږي او په سلو کې ۶۰ زده کوونکې به يې ښځې وي. د ELA پروژه به د خپل فعاليت په اوږدو کې د سواد زده کړې ۴۰۰۰ ټولګي پرانېځي.

د يو اين هبيتات د LCEP-2 پروګرام چې امريکا د متحده ايالتونو د پراختيايي اداري (USAID) لخوا تمويلېږي د سواد زده کړې، د ټولنيزې بانکدارۍ او توليدي مهارتونو د زده کړې ګډه کړنلاره ده. دغه پروژه د افغانستان په ۲۰ ولايتونو کې د ۳۱۰۰۰۰ تنو معيشت او ژوند ته وده ورکوي. ددې پروګرام په سلو کې ۶۰ برخه زده کوونکي ښځې دي. د سواد زد کړې مهارتونه په سيمه ييزو پراختيايي فعاليتونو کې د خلکو او ټولنې ونډه پياوړې کوي.

يونسيف له پوهنې وزارت سره د سواد د زده کړې د ښځينه کورسونو په جوړولو کې مرسته کوي ترڅو په اوسط ډول ۸۰۰۰۰ ښځو ته ليک لوست وښيي. له ۲۰۰۶کال را پديخوا يونسيف د ۳۸۶۰۰۰ ښځو لپاره د کورسونو په جوړولو کې ونډه اخيستې او په پام کې لري، چې تر ۲۰۱۳ کال پورې ۴۰۰۰۰۰ نورو ښځو ته ليک لوست ور زده کړي.

يونيسف د معارف د وزارت سره مرسته کوي څو دغه وزارت د ښځو د سواد د زره کړې کورسونه چې ورځخه ۸۰۰۰۰ مېرمنې په منځنۍ توګه هر کال ګټه پورته کوي پرمخ بوځې. ۳۸۶۰۰۰ ميرمنې د دغو مرستو څخه د ۲۰۰۶ کال راهيسې برخمنې شوې دي.

د دغې ځانګړې پروژې ترڅنګ یونسکو، یونیسف او یو این هبیتات سره یو ځاى د نورو پنځوو د ملګرو ملتونو د موسسو سره د ملګرو ملتونو د سواد د زده کړې ګډ پروګرام ته انکشاف ورکړی دی چې دا به هغه روان فعالیتونه بشپړ کړي چې د معارف د وزارت او نورو هغو کلیدي فعالینو له خوا یې مشرتوب کیږی چې په دې سکتور کې کار کوي.د ملګرو ملتونو ګډ پروګرام د سواد د ګډې زده کړې او غیر رسمي زده کړو (ان ایف اي) په پروګرام باندې تمرکز کوي چې د لړو خدماتو د برخې او په مستثنی شوو وګړو د ځواکمنتیا لپاره د هغوي د سواد د مهارتونو، معیشت او روغتیا د لارې کار وکړي.

د دې فرصت څخه په استفادې سره موږ غواړو د خپلو همکارانو په تیره بیا د معارف د وزارت څخه د ګټورې همکارۍ له المه مننه وکړو. د ملګرو ملتونو کورنۍ په دې هڅه کې ده څو دغه همکاري تقویه کړي چې په دې توګه د سواد زده کړې لپاره هڅې د هیواد په کچه پراخې شي. موږ همدارنګه د خپلو بیلا بیلو دونرانو او مالي مرسته کوونکو څخه مننه کوو چې هغوي پخپل سخاوتمندانه سره موږ ته دا امکان برابر کړلو چې د سواد د زده کړې په لار کې د حکومت او د افغان وګړو د هلو ځلو سره خپله ونده شریکه کړو.

سواد د پرمختیا لپاره یوهستره برخه ده. په دې مناسبت چې دغه ورځ ولمانځل شي د ملګرو ملتونو سرمنشي بانکی مون پخپل پیغام کې ویلي دي:

"سواد خلکو ته ددې وسایل برابروي چې د هغو د لارې خپل معیشتونه جوړ کړي، د ټولنې په کچه په پریکړو کې شریک شي، د روغتیا په اړه معلوماتو ته رسیدنه او د دې ترڅنګ نور ډیر څه ولري. د هر څخه وړاندې دا وګړي دې ته ځواکمنوي چې د اتباعو او بشري موجوداتو په توګه خپل حقوق وپیژني او تر لاسه کړي."

افغانستان په نړۍ کې تر ټولو کم سواده هیوادونو په قطار کې راځي چیرته چې ۳۴ فیصده (ام دی جي ۲۰۰۵) وګړي کولاي شی لیک او لوست وکړي او د ښځو زیاتره برخه په کلیوالی سیمو کې ژوند کوي. د ملی خطر او زیانمنیدونکي ارزونی (NRVA2005) پر اساس د ۱۵ څخه زیات عمر لرونکو وګړو په منځ کې د سواد تناسب ۲۴ فیصده ده(۳۲ فیصده نارینه او ۱۳ فیصده ښځینه). په کلیوالی سیمو کې دغه ارقام لا بوږنوونکي دي. د کابو ۷۴ فیصده افغان وګړي چې په دغه سیمو کې ژوند کوي، داسی تخمین کیږي چې ۹۰ فیصده ښځې او ۶۳ فیصده نارینه د سواد د مهارتونو څخه بی برخی دي. (MRRD 2003)

د دغه هپښوونکو ارقامو په رڼا کې او همدارنګه د بریالیتوب د کیسو په پام کې نیولو سره، چې د سواد د زده کړې د زده کوونکو لخوا وړاندې شوې دي، یونسکو، یونسیف او یو ان هبیتات د حکومت له ټولو وزارتونو، نړیوالو ټولنو، نادولتي ادارو، مدني ټولنو او په خپله له سیمه ییزو خلکو څخه په ټینګه غوښتنه کوي، چې د سواد د زده کړې د نړیوالې ورځې دپیاوړتیا پیغام ولمانځي او په افغانستان کې د سواد دزده کړې د پروګرامونو د برابرو په برخه کې خپلو ژمنو ته دوام ورکړي او په پایله کې ځواکمنه، با امنه او تولیدوونکې ټولنه رامنځ ته کړي.

**پوښتنې او ځوابونه:**

**راديو آزادی:** زما پوښتنه آغلي کاترین ته متوجه ده، غواړم یوه شم پداسي حال کې چې تاسو په دې هیواد کې خپل فعالیتونه پرمخ وړي ستاسو په وړاندې کومي مهمي ننګوني پرتې دي؟

**یونیسف:** زه همیشه غواړم د مثبتو ټکو څخه پیل وکړم. کله چې موږ د لیک لوست په هکله خبري کوو، موږ هغو شیانو ته مراجعه کوو چې موږ معرفي کړي دي، افغانستان اوس هم د نړۍ په کچه د لیک لوست له پلوه د خورا کم لوست د هیوادونو له جملې څخه دی. خو راځئ چې د مثبتو ټکو په اړه خبرې وکړو. په اوس  حال کې نږدې ۶,۲ میلیونه ماشومان په دې هیواد کې ښوونځیو ته ځي، دا رقم د ۲۰۰۱ او ۲۰۰۲ کلونو په پرتله ډیر غټ رقم دی. کله چې زه د ټول هیواد څخه لیدنه کوم، او د لیک لوست ټولګی ګورم، نو زه د ښځو د درې نسلونه، انا، مور او لور په لیدو سره وحشت زده شم، هغوي ټولې یو ځاى ښوونځي ته راځي ما فرصت تر لاسه کړ چې د یوې انا څخه پوښتنه وکړم چې ته ولې دلته ښوونځي ته راځي، نوموړې وویل چې زه په دې خاطر ښوونځي ته راځم چې زما لمسی لیک لوست زده کړی که نه نو هغې ته به د لیک لوست د زده کولو لپاره له کور څخه د راوتلو اجازه پیدا نه کړي.

اوس هم په دې هیواد کې داسې ټولنې شته او په دې باور لري چې د نجونو لکی لوست دومره مهم نه دی. که څخه هم د لیک لوست په هکله تقاضا موجوده ده خو بیا هم ځینې خلک په دې باور دي چې د نجونو لیک

لوست دومره مهم نه دی. نو دا یوه ستره ستونزه ده، اوس موږ ځنګه د هیواد په ټولو برخو کې ټولنې بسیجې کړو او هغوې ته وښیو چې د زریزو پراختیایي موخو سره په سمون کې د هلکانو او نجونو لکی لوست د بام وړ دی. نو دا یوه ننګونه دی. بله ستونزه دا دی چې موږ کافی ټولګي نه لرو، د ټولو هلو ځلو سره سره، اوس هم موږ په دې هیواد کې داسې سیمې لرو چیرته چې رسمي ښوونځي موجود نه دي، ټول شریکباني په دې هکله سخت کار کوي. پدې هکله د ښوونې او روزنې په وزارت کې چې څنګه د هیواد په ټولو برخو کې د معارف لپاره د ښوونځي رامنځ ته کړو، روښانه ستراتیژي موجوده ده.

**سلام وطندار:** ستاسي خاصي سپارښتنې حکومت ته څه دي چې د لیک لوست اندازه یاته شي او دویمه بوښتنه د ملګرو ملتونو د ګډ پروګرام په باب ده، کله دغه پروګرام پیل شوی دی او څومره کسان به تر پوښښ لاندې په کومو ځایونو کې ونیسي؟

**یونسکو:** موږ  غواړو ټولو برخه والو ته په ټینګار سره ووایو چې تر ټولو مهمو خبره د حکومت له خوا مشرتوب دی. حکومت یوازې د شووني وزارت،د کار وزارت او یا د ښځو د چارو وزارت نه دی، بلکه ټول وزارتونه دې ته هڅول کیږي چې خپلې هڅې سره یو کړي او هغه ټولنې سره بسیجې کړي چیرې چې د لیک لوست ښیوول کیږي.

تر ټولو مهمه خبره دا ده چې څنګه موږ دا احساس ورکولای شو چې د دوي خپل کاری دی او د ټولنې خلک باید په خپل احساس سره د ولایت او هم ولسوالیو په کچه نوښتونه وکړي. په همدې احساس سره ټولو مربوطو وزارتونو موافقه وکړه چې د لیک لوست یو کمیسیون تاسیس کړي او د ښوونې وزارت دغه کمسیون د سواد د هفتې په لومړی ورځ تاسیس کړ. د دې لپاره چې د حکومت له هڅو سره مرسته وکړو، د ملګرو ملتونو کورنی، دونران او مدني ټولنې و غیر حکومتي سازمانونه یو ځای کار کوي چې په ولایتي او د ولسوالیو او په ملی کچه دغه هڅې تشویق کړو او ورسره مرسته وکړو. موږ یو ملي پروګرام تنظیم کړی ید چې لایف نومیږي (د څواک لپاره د لیک لوست نوښت) دلته د ملګرو ملتونو ټولې اړونده اداري، وزارتونه او مدني ټولنې راغونډې شوي دي او میاشتنۍ منظمې غونډې لري. د ګډو پروګرامونو په هکله ستاسي د پوښتنې په ځواب کې د دریو سازمانونو تر څنګ د روغتیا نړیوال سازمان، نړیوال خوراکي پروګرام، د خوراک او کرنې سازمان، د کارګرانو نړیوال سازمان او یونیفپا هم د لیک لوست لپاره د ګډ پروګرام غړي دي. د دې پروګرام تر لاندې مږ په وروستۍ مرحله کې یو چې وروستي سند تکمیل کړو  او هغه د ښوونې له وزارت سره او نورو وزارتونو او دونرانو سره شریک کړو چې د بشري او مالي منابعو په اړه سرچینې برابرې او بسیج کړو. دغه ګډ پروګرام یو نوی کار دی، په دې مانا چې موږ به د لیک لوست بیلا بیل کورسونه جوړ وو. په ځینو کورسونو کې به موږ روغتیایی کلینیکونه په کاروو او روغتیایی زده کړي به د خلکو د اړتیاوو په اساس د دې کورسونو مهمه برخه وي. یونیسف کولای شي د نسلونو په اوږدو کې د لیک لوست اهمیت خلکو ته وښیي او هابیتات کولای شي ټولنې بسیجې کړي او د ټولنې د پرمختګ چارې په دې کورسونو کې پر مخ بوځي.

**یو این هبیتات:** اجازه راکړئ چې یو څو خبرې د خپل همکار په خبر ور اضافه کړم. یو این هابیتات په افغانستان کې تر ۱۵ کلونو زیات کار کوي. موږ د ټولنې پر بنا له روش څخه کار اخلو. موږ به ښاروونو او کلیو کې له کوزه څخه پیل کوو او له ټولنو سره کار کوو. د یو این له ګډ پروګرام سره یوه مرسته دا ده چې موږ لیک لوست د هدف په څیر نه وینو بلکه دا یوه وسیله ده او زموږ د تجربو له مخې د L-CEP پروګرام (د ټولنې د ځواکمن کولو پروګرام) موږ احساس کوو چې ټولنې د سپما په ذریعه نوری ټولنې تقویه کوي چې مهم مهارتونه زده کړي او د خلکو په ژوند کې بدلون راولي او په دې ډول خلک د لیک لوست مهارتونه زده کوي او ساتي یې.
دغه راز موږ وینو چې لیک لوست خلکو ته فرصت ورکوي چې د ټولنو په پرمختګ کې برخه واخلي او دغه مهارتونه د تل لپاره وکاروي. د کاترین د خبرو په تایید سره لیک لوست خلکو ته د روغتیا پیغامونه ښیي او په دې ذریعه دوي کولای شي خپله او د ټولنې روغتیا وساتي.

**نور ټلویزیون:** زما پوښتنه آغلې کاترین ته متوجه ده. آیا تاسو کولای شي و وایاست چې د تیرو ۸ کلونو په ترڅ کې څومره ښځو ستاسو د لیک لوست د کورسونو څخه ګټه پورته کړي؟

**یونیسف:** تاسو باید ټول پروګرامونه سره یو ځای کړي. که چیرې زه یوازې د یونیسف په اړه خبرې وکړم نو بیا باید وویل شي چې موږ د لیک لوست پروګرام په ۲۰۰۶ کال کې پیل کړ. لکه څنګه چې زما همکارانو وویل نږدې ۲۶۰ ښځو د لیک لوست له دغو کورسونو څخه ګټه پورته کړې. خو تاسو دې پروګرام ته د یوازنی پروګرام په سترګه مه ګورئ. تاسو بیاد ښځو د نورو پروګرامونو او همدارنګه د ښوونې او روزنې د پروګرامونو په هکله هم فکروکړئ. خو اوس هم ستونزه د ۱۳ یا ۱۸ ٪ پر سره ده، دا ارقام د ښځو د سرچینو په اړه بدلونون مومي او د هغو کسانو کچه چې لیک لوست کولای شي ډیره ټیټه ده. نو په دې هکله د هڅو دوام ته اړتیا لیدل کیږي خو لکه څنګه چې زما همکارانو د مخه هم وویل د یوازې د ملګرو ملتونو یوازینی نمایندګی نه ده چې په دې هکله کار کوي. د ملګرو ملتونو زیاتې نمایندګۍ په دې هکله د یو شمیر وزارتونو سره په کار بوختې دي چې شریکبانې، انجوګانې او مدنې ټولنه هم په کې شامله ده. په یو شمیر زیاتو هیوادونو کې یو شمیر پروګرامونه کوښښ کوي چې د لیک لوست ترکیب کوونکې برخې د ټولنو په پراختیایې پروګرامونو کې شامل کړي. او دا هغه اصلي سرچینه ده چې باو رکیږي په دې هیواد کې به یو بدلون رامنځ ته کړي.

**آزاد خبریال:** زه پنځه پوښتنې لرم خو یه پوښتنه کوم. یوه ستونزه چې تاسې یادونه و نه کړه د امنیت مساله ده. که د اوسینو شرایطو په پام کې نیولو سره لطفا ووایې چې څومره ښوونځې تړل شوي دي یا تر حملو لاندې راغلي دي او یوه نوې احصاییه ورکړئ او بله برخه د پوښتنې، دا ښوونځې د ټاکنو د مرکزونو په حیث کارول شوي دي، تاسې فکر کوئ چې دغه پیښنه د دې سبب شوی دی چې د حکومت ضد عناصرو په هغو حملې کړې دي؟

**یونیسف:** البته دا یوه ستونزه ده، په ښوونځیو باندې بریدونه د ډیرو کلونو راهیسې یوه اندیښنه ده او داسې به وی. په جنوب کې دیر ښوونځې تړل شوی دي. د ملګرو ملتونو ستراتیژي دا ده چې ټولنې راشاملې کړو. دوي پوهیږي چې هلته څه پیښیږي. د ټولنو له مشرانو، ملایانو او نورو برخه واله سره ګډ کار کوو چې ښوونځې بېرته پرانیزو. د تېر کال په پای کې نږدې ۶۰۰ ښوونځې په جنوب کې تړلې وو. موږ کولای شو تاسې ته ددې ښوونځیو شمیر په دې کال کې وښیو، دا یوه ستونزه ده او ډیر ښوونځې تر حملې لاندې لاغلي دي. ډیری حادثې شوی ید مګر نه شو ویلای چې د ټاکنو له امله شوي دي. ځینې حملې د ټاکنو په وخت کې او ځینې له هغه پخو شوي دي. موږ لا اوس هم دغه شمیره راټولو خو اسو څه نه شو ویلای.

**یو این هبیتات:** البته امنیت زموږ ټولو لپاره ستونزه ده. مګر لکه کاترین چې وویل هابیتات له خلکو سره کار کوي، د ددوي مرسته غواړي او په هغو ځایونو کې پروګرامونه معرفي کوي چې د دوي لپاره اسانه وي. د سواد کورسونو په معرفی کولو سره موږ په سختو ځایونو کې کار کوو. د ۲۰ او ۲۵ تنو ګروپونه جوړ شوی دی چې په مختلفو شرایطو کې کار کوي. ښځې باید ۶۰ ٪ په هغو کې برخه واخلي. اوس موږ ۵۹،۴ ٪ کې لرو. سره د ستونزو ډیرې ښځې کورسونو ته راځي. دوی په لیوالتیا سره زده کړه کوي او د ټولنې د مشرانو په مرسته موږ په ډیرو سختو شرایطو کې کار کوو.

**آریانا ټلویزیون:** په هغو ساحو کې چې خلک به دودیز ډول د ښځو د تعلیم په ضد دي، تاسې به په دغو ساحو کې څرنګه خلک وهڅوئ چې د ښځو د تعلیم اجازه ورکړي؟

**یونسکو:** څه شی چې تر اوسه موږ کړی دی او کوو یې دا دی، چې محلي ښځینه ښوونکی استخدام کړو چې لیک لوست ښځو ته وښیي. په ډیرو حالاتو کې موږ له محلي مشرانو او ملایانو سره کار کوو او هڅه کوو دوي د پرمختګ لپاره د لیک لوست په اهمیت باندې قانع کړو. نو ځکه موږ لیک لوست یوه پیټی په شان له ځان سره نه راوړو، بلکه ټولنې ته ورځو او هلته هڅه کوو چې خلک د لیک لوست په اهمیت باندې خبر کړو او به دې یې وپوهوو چې یوه ښځه لیک لوست زده کړي څومره کولای شي چې په کورني ژوند کې له هغه څخه ګټه پورته کړي. په ډیرو مواردو کې دوي پوهیږي او البته په دې لار کې ګوابنونه شته خو سره د دې هم موږ هڅه کوو چې دوی د لیک لوست په اهمیت باندی وپوهوو.

**یو این هبیتات:** هو دا ډیره مهمه مساله ده په هغه څه برسېره چې زما همکار وویل هابیتات هڅه کوي چې هغه ټولنې چیرې چې ښځې کولای شي د لیک لوست کورسونو ته ولاړې شي دې ته وهڅوو چې نورو ټولنو ته ولاړې شي چیرې چې د لیک لوست سره لېوالتیا نشته په دې ډول موږ د ګروپې فشار په ذریعه د بدلون له پروسې سره مرسته کوو.

**بي بي سي:** تاسي خبر یاست چي د جنګونو له امله خاصتا په جنوبي برخو کې ډېر ښوونځي تړل شوي دي. ستاسي د لیک لوست پروګرام په دې برخو کې څنګه پرمخ ځي؟

**یونیسف:** موږ دغه مساله د یوې ستونزې په څیر پیژندلي ده. مګر د هر پروګرام د ساتني لپاره تاسي کولای شي چي د ټولني په همکاري یې وساتئ. او همدغه تر ټولو ښه ستراتیژي ده. البته داسي ځایونه شته چي لاس رسی ورته نه کیږي او دا یوه ستونزه ده.

**یونسکو:** زه غواړم ټینګار وکړم چي میډیا د لیک لوست په پرمختګ کې یوه مهمه وسیله ده. تاسي له ټولو خلکو سره رابطه لرئ. او په دې مانا زه تاسي هڅوم چي زموږ د یوه مهم برخه وال په حیث د لیک لوست پروګرام په پښتو دری او انګلیي کې پرمخ بوځئ.

پیغام دا دی چي لاسونه سره یو کړو او د لیک لوست پروګرام د سولي لپاره پرمخ بوځو. لطفا له موږ سره یو ځای شي او خلک په دې پوه کړئ چي دا یوازې د لوستلو او لیکلو مساله نه دهو بلکه د پرمختګ، سولي او بشري حقونو مساله ده.

---------------------------------------------